مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې اوومه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۸مه | ۶۰۱مه ګڼه

# د بین الافغاني خبرو ځنډنی بهیر؛

## په هېواد کې خونړۍ جګړې او په دوحه کې په ټپه ولاړو مذاکراتو اندېښنې پارولې دي



۳

### په دوحه کې اختلافونه، لاملونه او ممکنه حللارې

۲ مخ

### افغان سوله؛ سیمه او د زبر ځواکونو مثلث

۲ مخ

### د شینجیانګ رښتینی انځور او د لوېدیځو رسنیو پروپاګند

۳ مخ

## د علیپور ملېشو په میدان وردګو کې د پولیسو پر پوستو بریدونه کړي، ګڼې وسلې او مهمات یې ترې وړي

د راپورونو له مخې، د علیپور ملېشو یوځل بیا د میدان وردګو په بهسودو ولسوالۍ کې پر پولیسو برید کړی، څلور پولیس یې ټپیان کړي، دوه یې برمته کړي، یو رېنجر موټر او د یادو پولیسو وسلې یې له ځانه سره وړي دي. د وردګو د والي ویاند مُحب الله شریفزي ویلي چې د علیپور نامسوولو وسله والو ورم ماښام ناوخته د میدان وردګو د بهسودو د دویمې حصې په ولسوالۍ کې پر هغو ملي پولیسو برید کړی چې د ګردن دېوال- چغچران سړک جوړونې د یوې پروژې د امنیت لپاره ګومارل شوي وو. دا په داسې حال کې ده چې نږدې درې اونۍ مخکې هم د علیپور ملېشو په یاده ولسوالۍ کې پر دوو امنیتي پوستو بریدونه کړي وو. هغه مهال شریفزي ویلي وو چې د علیپور وسله والو په دغه برید کې دوه پولیس ټپیان کړي او د پولیسو یو هاموي ټانګ او یو شمېر وسلې او مهمات هم له ځان سره وړي دي. عبدالغني علیپور چې د نامسوولو وسله والو په درلودو، په لارو کې د باج اخیستو او خلکو پر ځورونه تورن دی، د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په څلورمه امنیتي ځواکونو کابل کې ونیو، خو دوه ورځې وروسته ځینو کسانو د نوموړي په ملاتړ له تاوتریخوالي ډک لاریونونه وکړل چې د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، د یادو لاریونونو په ترڅ کې په کابل ښار کې ۴۸ پولیس ټپیان او د ملي اردو د جلب او جذب د دریو مرکزونو په ګډون، ۹ امنیتي پوستې تخریب او وسوځول شوې. وروسته علیپور د لیندۍ په پنځمه د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش په ضمانت خوشې شو او ژمنه یې وکړه چې وسلې به یې ثبتوي او دولت ته به یې سپاري، خو تر اوسه دا کار نه دی شوی.

## ناټو: طالبان دې د سولې په بهیر کې د باور جوړونې لپاره تاوتریخوالی راکم کړي



۵ مخ

## ولایت


۴ مخ

### پکتیکا

په دغه ولایت کې د ښځینه کارکوونکو د ګنډنې پر کار سربېره، د مسګرۍ، اهنګرۍ، نجارۍ، ټغر او لیمڅي جوړول هم خورا ښه دود دی.



### کرنې ریاست: د نیمروز د پنبې سږني حاصلات لس برابره ډېر شوي دي



د نیمروز د کرنې ریاست د کرنیزو چارو امر ذبیح الله اولیازاده وایي، چې سږکال د دغه ولایت په دوه زره او ۲۵۰ هکټاره ځمکه پنبه کرل شوې، چې څه باندې پنځه زره ټنه مالوچ به ترې راټول شي.

دا په داسې حال کې ده، چې تېرکال د نیمروز ولایت د پنبې حاصلات ۵۶۰ ټنه وو. د اولیازاده په خبره، په یاد ولایت کې د پنبې د کرکېلې د ودې او پراختیا په پار پر بزګرانو د پنبې اصلاح شوي تخمونه، کیمیاوي سرې، د اړتیا وړ درمل او نور اړین توکي وېشل شوي او ترڅنګ یې بزګرانو او ځمکوالو ته د پنبې نندارېزې قطعې هم جوړې شوې دي. د نیمروز د کرنې ریاست د کرنیزو چارو امر د دغه ولایت د پنبې د سږنیو حاصلاتو د زیاتوالي اصلي لامل په دغه ولایت کې پنبې کرکېلې ته د خلکو لېوالتیا، د پنبې د کروندو زیاتوالی او کروندګرو ته د یاد ریاست د تخنیکي کارکوونکو له خوا د روزنیزو پروګرامونو ترسره کېدل بولي.

### سناتوران: برخی وکلا در صدد معامله در پیوند به رای اعتماد با نامزد وزراء هستند



برخی اعضای مشرانو جرگه مدعی اند که شماری از اعضای ولسی جرگه در صدد «معامله» در پیوند به رای اعتماد با نامزد وزراء هستند.

بر بنیاد قانون، نامزد وزراء از سوی رئیس جمهور برای گرفتن رای اعتماد به ولسی جرگه معرفی می شوند. درحالیکه بیش از شش ماه از تشکیل حکومت جدید در افغانستان می گذرد؛ اما هنوز هم تمامی وزارت ها از سوی سرپرستان اداره می شود، حکومت فهرست نامزد وزراء را ترتیب داده اما هنوز نامزدان برای گرفتن رای به ولسی جرگه معرفی نشده اند.

عبداللطیف نهضتیار نماینده مردم نورستان در این جرگه گفت: «معامله وکلا و نامزد وزراء جریان دارد، وکلا بر نامزد وزراء فشار وارد می کنند تا افراد دلخواه شانرا سرپرستان در ولایات تعیین کنند.» به گفتۀ موصوف، نباید به نامزد وزراء تا گرفتن رای اعتماد اجازه داده می شد که به عنوان سرپرست کار کنند؛ زیرا به گفته موصوف، نامزد وزراء با استفاده از صلاحیت وظیفوی شان مصروف کمپاین از امکانات دولت به نفع خود شان می باشند، تا در ولسی جرگه رای اعتماد به دست آورند. محمد علم ایزدیار نایب اول مشرانو جرگه نیز بدون ارایه جزئیات گفت، به اسنادی دست یافته است که نشان می دهد بر اساس فشار برخی اعضای ولسی جرگه، برخی نامزد وزراء با وکلا کنار آمده اند.

وی افزود: «این اسناد نشان می دهد که با فشار وکلا، وزارت خارجه اجراات غیرقانونی را انجام داده است، من حالا بیشتر نمی توانم در مورد صحبت بکنم، اما این موضوع را مستند سازی کرده با نماینده مردم در جرگه شریک خواهم کرد.»

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos



کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### په دوحه کې اختلافونه، لاملونه او ممکنه حللارې

طالبانو هم په دوحه کې په روانو خبرو کې د اختلاف او ستونزو په اړه سکوت مات کړ او پرون د طالبانو د مذاکراتي ټیم دوو غړو جلا جلا مرکې وکړې او د شته اختلافاتو د څرنګوالي او لاملونو په اړه یې معلومات ورکړل. دغو طالب استازو په خپلو مرکو کې ویلي چې له دې امله یې د روانو خبرو د څرنګوالي او اختلافونو په اړه څه نه ویل چې له مقابل لوري سره یې هوکړه کړې وه چې تر توافق مخکې به په دې اړه رسنیو ته څه نه وایي. دوی تور پورې کوي چې مقابل اړخ یې دا هوکړه نه عملي کوي، نو ځکه دوی هم په دې اړه وضاحت ورکوي. دوی مقابل اړخ تورنوي چې سوله نه غواړي او غواړي په لانجمن دریځ او څرګندونو سره د سولې روانو خبرو ته زیان ورسوي او ناکامې یې کړي.

اوس اختلاف روښانه او په دوو مسایلو کې دی. لومړی دا چې طالبان غواړي د بین الافغاني خبرو اساس له امریکا سره د طالبانو توافق وي، خو حکومت یې نه مني او وایي چې دوی هم له امریکا سره ګډه اعلامیه صادره کړې ده. دویم دا چې طالبان غواړي په مذهبي چارو کې د اختلاف د حل لپاره حنفي فقهه معیار وي، خو حکومتي اړخ د اساسي قانون دویم فصل یادوي چې ورسره به جعفري فقهه او د بشري حقونو مسایل هم ور ګډیږي.

په لومړۍ چاره کې طالبان استدلال کوي چې دوی له امریکا سره د توافق پر اساس خبرو ته حاضر شوي. طالبان له دې واضح هدف لري او هغه دا چې حکومت په رسمیت نه پیژني. له امریکا سره په توافق کې طالبانو ویلي چې بین الافغاني خبرې به له «افغان لورو» سره کوي. حکومت بیا له همدې امله د دې چارې مخالفت کوي. اوس که حکومت د یو افغان لوري په حیث ځان مطرح کوي، نو نظام او جمهوریت هسې خیالي کیسه شوه او که طالبان حکومت په رسمیت پیژني، نو مني چې په تېرو ۱۹ کلونو کې یې د حکومت پر ضد جګړه کړې ده او د حکومت پر ضد جنګېدونکي کسان باغیان دي او په طبیعي شکل د حکومت په پرتله یې مشروعیت را لوېږي. له همدې امله ستونزه پېچلې شوې ده.

دویم دا چې دیني اختلافات باید حل شي، خو له دې امله چې متفاوت تفسیرونه شته، نو ځکه طالبان غواړي د حنفي فقهې خبره پر مقابل اړخ ومني. حکومت چې د دین پر ځای تر ډېره د بشري حقونو او دیني پلورالېزم خبرې کوي، نو ځکه د دغه بحث منل ورته ستونزمن دي او آن د حکومت ځینو غړو ته د اساس په توګه د دین منل هم لانجمن بحث ښکاري. په دې ډول دا اختلاف هم لوی او اساسي دی.

اوس حللاره هم شته؟

د حنفي فقهې په مسئله کې حکومت اړ دی چې انعطاف وښیي. دا چې طالبان مني چې په راتلونکي نظام کې به د نورو مذاهبو پیروان په خپلو چارو کې ازاد وي، دا ستونزه حل کوي، خو د اوس لپاره په دیني مسایلو کې د اختلاف د حل لپاره له حنفي فقهې پرته بله چاره نشته. په دویم اختلاف کې پکار ده چې یوه دریمه لاره وموندل شي، داسې چې نه پکې د دوحې تړون تر پښو لاندې شي او نه هم حکومت یو مخ هېر شي. له همدې امله دواړه اړخونه باید پر خپلو دریځونو د ټینګار ترځنګ انعطاف او دریمه لاره هم هېره نه کړي.

# افغان سوله؛
# سیمه او د زبر ځواکونو مثلث

لیکنه: عبدالحی قانت

د روان کال د سپټمبر په ۱۲مه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان لوریو تر منځ د سولې او روغې جوړې پروسه رسماً پیل شوه. دا خبرې پس له ډېره ځنډه چې باید د مارچ په ۱۰مه پیل شوې وی، شپږ میاشتې وروسته پیل شوې. د دوحې بین الافغاني خبرې که په دریو برخو ووېشو، اوله برخه چې د خبرو د افتتاح برنامه وه، په کامیابۍ سرته ورسېده. دویم پړاو یې اوس پیل دی چې په کې د طرزالعمل پر مادو جنجالونه دي او دریم پړاو یې له ټولو مشکل پړاو دی چې افغان لوري به په خپلو کې د خبرو پر اجنډا بحث کوي.

د سولې په روان بهیر کې یو بحث چې ډېر ژوندی دی، هغه د ګاونډیو هېوادونو او د افغانستان په قضیه کې ښکېل د دریو مهمو زبر ځواکونو (امریکا، چین، او روس) د رول بحث دی. دا ځکه چې په اوسني نړیوال جوړښت کې دا ممکنه نه ده چې یوه ملي پروسه، لکه سوله دې یوازې پر ملي روحیه او د ملت دننه د ښکېلو لوریو پر خوښه مخته ولاړه شي، حقیقت دا دی چې د سیمې هېوادونه او د نړۍ زبر ځواکونه په ملي پروسو اثر لري او که وغواړي ملي پروسې تخریبولای او ټکنۍ کولی شي. اوس پر دې بحث کوو چې د افغانستان د سولې روانې پروسې په اړه د سیمې ګاونډي هیوادونه او د نړۍ زبر ځواکونه څه نیت لري.

امریکا د سولې مهم طرف

د افغان سولې په اړه د امریکا داخلي بحثونو کې دوه مهم نظرونه موجود دي. یو نظر دا دی چې امریکا د افغانستان په اوسنۍ جګړه کې ستراتیژیکې لاسته راوړنې نه لري او نه باید د امریکا د تاریخ په دې اوږده جګړه کې امریکا مالي او ځاني تاوانونو ته تن ورکړي. دې نظر لرونکو اشخاصو کې داسې خلک هم شته چې هغوی د شوروي له ماتې را وروسته له ټولو جګړو د امریکا راویستل غواړي. د امریکا مخ ته را ولاړې شوې نوې نړیوالې ننګونې او د امریکا په عامه ذهنیت کې له دې بې نتیجې جګړو سوړ استقبال هم د دې لامل دی، چې امریکا باید نورې نړیوالې جګړې پای ته ورسوي. دا طبقه خلک پر دې نظر دي چې امریکا باید له افغانستانه د یو داسې تړون په نتیجه کې راووځي، چې افغانستان نور د دوی ملي امنیت ته د خطر او ګواښ ځای نه اوسي. ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دې خلکو په سر کې دی.

بل نظر دا دی چې امریکا باید په افغانستان کې جګړې ته ادامه ورکړي او نه باید له افغانستانه خپل نظامیان وباسي. دا نظر لرونکي افراد هغه وګړي دي چې فکر کوي که امریکا له افغانستان څخه ووځي، افغانستان به د داعش او همداسې نورو سخت دریځو ډلو مرکز وګرځي او د امریکا ملي امنیت به یو ځل بیا له یو لوی خطر سره مخ شي. د دې ډلې مشران د امریکا هغه پخواني جنرالان دي چې له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره پر همداسې موارډو د اختلاف له امله له دندو ګوښه شوي دي. جنرال مک ماسټر، جان بولټن، جنرال میټس او جنرال فلن د دې ډلې له قوي فعالانو څخه دي.

د امریکا اوسنۍ تګلاره دا ده چې امریکا نوره د افغانستان له جګړې ستړې ده او نه غواړي چې دې جګړې ته دوام ورکړي.

چین او پاکستان

له امریکا وروسته دوه هېوادونه چې سولې ته ډېر لیواله دي او غواړي چې افغانستان کې سوله راشي، هغه پاکستان او چین دي. پاکستان د افغانستان په څلوېښت کلن ناورین کې ډېر څرګند رول لري او د افغانستان د ورانۍ او د جګړې د دوام اصلي عامل دی. په دې وروستیو کې د افغانستان په خاوره له بل کړي اور څخه پاکستان خپله ډېر لوی زیان ولید. په پاکستان کې د طالبانو د تحریک په نوم ډېرې استخباراتي کړۍ فعالې شوې او د پاکستان ملي امنیت یې له داخل څخه وګواښه. پاکستان پر دې پوه شو چې افغانستان کې ناامني نوره د دوی په ګټه نه ده او دا په لوی لاس د هغو خلکو پر لاس یو فرصت ورکول دي، چې غواړي د پاکستان ملي امنیت خراب کړي. چین همدا راز د پاکستان له تېروتنو دا درس زده کړ چې که چېرته افغانستان کې جګړه وي، ممکنه ده چې نړیوال استخبارات او د چین نړیوال سیاسي رقیبان په یوغور کې مظلوم مسلمانان او د چین په داخل کې د کمونېست دولت مخالفینو ته د افغانستان له ناامنیو په استفادې لاسرسی پیدا کړي. چین له دې ننګونې ډېر په ډار دی او غواړي ژر تر ژره امریکا او د ناټو غړي هېوادونه له افغانستانه کډه وکړي. دا د دې سبب کیدلای شي چې چین په افغان سوله کې مثبت رول ولوبوي.

هند او ایران

هند او ایران د منطقې دوه هغه هېوادونه دي چې د افغانستان د سولې په قضیه کې منفي رول لري، ځکه د افغانستان په ارامۍ کې د دوی هېڅ ګټه نشته. د دې دواړو هیوادونو یو مشترک تاوان دا دی چې که چېرته د بین الافغاني سولې په نتیجه کې طالب لوری وسله کېږدي او سیاسي میدان ته داخل شي، داخلي سیاست کې به په طبعي ډول د پاکستان رول زیاتېږي. دا هغه څه دي چې نه پرې ایران او نه هم هند خوښ دي؛ ځکه ایران او هند په سیمه کې د پاکستان له مهمو رقیبانو څخه دي.

ایران د اقتصادي تاوان له امله هم په افغانستان کې د سولې طرفدار نه دی. افغانستان د ایران د صادراتو لپاره پر یو ښه مارکیټ سربېره، د هریرود او هلمند رود په اوبو تر زاهدانه د ایران ټول شرق خړوبوي. همدا راز که چېرته د سولې په نتیجه کې یو قوي مرکزي حکومت جوړ شو، د ایران د ګازو او تېلو مارکېټ له لوی خطر سره مخ کېږي. منځنۍ آسیا کولی شي چې خپل تېل او ګاز سوېلي اسیا ته د افغانستان له لارې صادر کړي. هند او ایران شاید په ګډه په دې فکر کې وي چې څرنګه د سولې مخه ونیسي او روانه پروسه ټکنۍ کړي.

روسیه او منځنۍ اسیا

روسیه او د منځنۍ آسیا هېوادونه په تاریخي لحاظ د افغانستان په قضایاوو کې دخیل پاتې شوي دي. روسیه په افغانستان کې د امریکا په شتون له ډېره وخته شکمنه ده. داسې راپورونه هم شته چې روسیې طالبانو ته د امریکایي پوځیانو د وژلو لپاره وسلې هم تقسیم کړې وې. له روسیې سره تړلي د افغانستان ګاونډي هېوادونه د داعش د پدیدې د راڅرګندېدلو پر مهال په دې ډار کې وو، چې ګواکې امریکا به داعش له کونړ او ننګرهار څخه د افغانستان شمالي ولایتونو ته انتقال کړي. دا پروژه د روس او منځنۍ اسیا د هېوادونو د ملي امنیت مسئله وه، له دې امله یې غوښتل چې څومره ژر کیدلای شي امریکا له افغانستانه خپل ټغر ټول کړي، هومره د دوی په ګټه دی.


د سولې له پروسې د سیمې او نړیوالو له ملاتړ داسې ښکاري چې په دوحه کې روانې خبرې به یوې نتیجې ته رسېږي؛ خو دا چې د خبرو په نتیجه کې رامنځ ته شوي حکومت سره به سیمه او نړیوال څنګه تګلاره خپلوي؛ له وخته مخکې بحث دی چې باید په خپل وخت وشي.

## خبرنیز بنسټونه: ډېری حکومتي ادارې د پراخ فساد له کبله معلومات محدودوي

معلوماتو ته د لاسرسي د نړیوالې ورځې په رانږدې کېدو سره، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې بنسټ د یو شمېر دولتي ادارو مسوولین د معلوماتو د ورکولو په محدودیت تورن کړي دي.

د دې شبکې رییس خان زمان امرخیل په یو خبري کنفرانس کې وویل، چې د دغه راپور د چمتو کولو په برخه کې یې له اوو دولتي بنسټونو معلومات غوښتي، خو یوه هم په دې برخه کې له دوی سره مرسته نه ده کړې.

هغه زیاته کړې: «موږ وغوښتل چې په دې اړه یوه هر اړخیزه څېړنه وکړو، خو له بده مرغه له موږ سره معلومات شریک نه کړل شول، دلته دوه مسئلې دي، اول دا چې اهلیت او ظرفیت نشته او بل فساد موجود دی، که دوی وغواړي چې دا معلومات له خلکو سره شریک کړي، خلک د معلوماتو پر بنسټ کولای شي چې د حکومت په وړاندې پرېکړه وکړي او په هغه پروسه کې چې فساد موجود دی، خلک غبرګون وښیي.»



د امرخیل په وینا، د دغه څېړنې موخه په دولتي ادارو کې د استخدام څرنګوالی، د بودجې لګښت، تړونونه، عواید او د کارکوونکو ادلون بدلون و.

د ده په وینا، دغه څېړنه په دوو میاشتو کې په مالیې، معارف، کلیو پراختیا او بیارغونې، ترانسپورټ، د کډوالو او بېرته ستنېدونکو او بهرنیو چارو وزارتونو او د افغانستان بانک کې ترسره شوې او له یادو ادارو معلومات غوښتل شوي چې مرسته ورسره نه ده شوې.

دغه بنسټ وړاندیز کوي چې خلکو ته د معلوماتو د ورکړې په برخه کې باید اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون عملي شي.

په ورته وخت کې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون بیا وایي، اطلاعاتو ته لاسرسی نه دی محدود شوی او په وینا یې، څېړنې هم باید د ځنیو میکانېزمونو او معیارونو پر بنسټ ترسره شي.

د دغه کمېسیون رییس عین الدین بهادري ویلي: «که دوی تخصصي کار کړی وای، نو لومړی یې باید د فورم د اخیستلو غوښتنه یې کړې وای او بیا یې که ځواب نه ترلاسه کاوه، نو موږ ته یې باید شکایت کړی وای، مونږ ډاډه یو چې دغو ادارو تراوسه پورې میکانېزمونه او نظرونه نه دي مطالعه کړي.»

په همدې حال کې د افغانستان د کلیو پراختیا وزارت ویاند وایي، دوی ژمن دي چې په خپل وخت اطلاعات ورکړي، خو په وینا یې چې یو شمېر مسایل وخت ته اړتیا لري.



# د شینجیانګ رښتینی انځور او د لوېدیځو رسنیو پروپاګند

لیکنه: ډېوه
د چین مډیاګروپ د پښتو څانګې خبریاله

ولې د چین د شینجیانګ د اویغوري قوم کورواکه سیمه همېشه په ځینو لوېدیځو خبري رسنیو کې د تش په نامه د بشري حقوقو د مسئلې په توګه پروپاګند کېږي؟ ولې بې بنسټه خبرونه همېشه په ځینو هېوادونو کې د اندېښنو او پاملرنې وړ ګرځي؟ ځواب یې دا دی؛ د لوېدیځو هیوادونو رسنۍ د خپلو موخو لپاره د ذهنونو ګډوډولو لپاره داسې درواغ او پروپاګند کوي، چې په شینجیانګ کې پر لږکیو قومونو د حکومت لخوا ظلم کیږي، په دې توګه لوېدیځ هیوادونه د خپلو رسنیو په مټ غواړي تبلیغاتي جنګ وکړي، حقایق تحریفوي او پروپاګند کوي. دوی غواړي په وګړو کې د چین ضد د دښمنۍ نظریې راپورته کړي، د چین د پرمختګ د مخنیوي پر وړاندې خنډونه رامنځ ته کړي، دا په پوره توګه د لوټمارو په شان ایډیالوژي او کړنه ده.

له ډېرو کلونو راهیسې ځینو لوېدیځو هېوادونو د بشري حقوقو د دفاع او ساتنې په پلمه او د ترهګرۍ ضد د مبارزو په پلمه په افغانستان، عراق، سوریې، لیبیا او نورو هېوادونو کې جنګونه او ویجاړۍ جوړې کړې دي، چې له امله یې په میلیونونو بې ګناه انسانانو ته مرګ‌ژوبلې اوښتې دي او ډېرې وګړي کډوال شوي، خپل کورونه او د کورنۍ غړي یې له لاسه ورکړي دي، خو د چین په شینجیانګ کې له ترهګرۍ سره، د ترهګرۍ له شومې پدیدې سره د مقابلې لپاره د ښوونې او روزنې په مټ مقابله شوې ده، چې د چین پر دغه د بشر پالنې پر لارې چارې په بې شرمۍ سره انتقادونه کیږي. نه پوهیږو چې دوی د کومو اخلاقو او معیارونو له مخې کار کوي؟ د دوی پټ هدف څه دی؟ په چین کې یوه اصطلاح ده وایي، یوازې د یوې خوا په ښه کولو مقابله مه کوه، ټولو کارونو ته یې متوجه اوسه، ښایي ټول کارونه او عملونه یې ناسم وي او باید له ټولو برخو سره یې د مقابلې لپاره بیداره اوسو. دا د ځینو لوېدیځو هېوادونو په عملونو کې څرګنده پدیده ده، چې د چین پرمختګ نه غواړي، د بېلابېلو اړخونو له لارې غواړي د چین پر وړاندې ستونزې جوړې او مقابله وکړي.

خو په شینجیانګ کې رښتینی حالت څنګه دی؟ د چین د دولت رییس شي جین پینګ لخوا په ویل شوو یو لړ وړاندې شوو شمېرو کې یې مور په څرګنده توګه ځواب موندلی شو. د شینجیانګ د چارو په اړه د چین د حکومت یوه غونډه چې په دې وروستیو ورځو کې په بېجینګ کې تر سره شوه؛ د چین دولت رییس شي جین پینګ پکې وویل، چې اوسمهال او په راتلونکې کې د شینجیانګ د چارو عمومي هدفونه داسې دي: په نوې زمانه کې د چین د ځانګړې سوسیالېزم په اتکا به شینجیانګ جوړ شي چې د بېلابېلو قومونو اوسېدونکي به یو د بل تر څنګ په خوشالۍ، یووالي او هوساینه پکې نېکمرغه ژوند وکړي، اقتصادي غوړېدا به رامنځ ته شي، خلک به شتمن شي، متمدن به شي او پرمختګ به وومومي، خلک به ښه کارونه او خوشاله ژوند ولري او طبیعت او چاپېریال به په ښه توګه وساتل شي.

په واقعي توګه د شینجیانګ اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او د خلکو ژوند ښه‌والي د لیدو وړ پرمختګونه کړي دي او د بېلابېلو قومونو د اوسېدونکو د نیکمرغۍ او خوندیتوب احساسات په پرله پسې توګه لوړ او پیاوړي شوي دي.

ځینې شمېرې:

له ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې د شینجیانګ د اویغوري قوم په کورواکه سیمه کې عمومي تولیدي ارزښت له ۱۳۵ میلیاردو ډالرو څخه ۱۹۹۴ میلیاردو ډالرو ته لوړ شوی، چې په هر کال کې یې د زیاتوالي اندازه ۷.۲ سلنې ته رسیدلې ده. بنسټیز تاسیسات په پرله پسې ډول بشپړ شوي دي او د شینجیانګ په ټولو ځایونو کې پاخه سړکونه جوړ شوي دي، چې په عامو چارو کې یې عایدات له ۱۹ میلیاردو ډالرو څخه ۲۳ میلیاردو ډالرو ته لوړ شوي دي، چې د زیاتوالي اندازه یې هر کال ۵.۷ سلنې ته رسیږي. له ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې په شینجیانګ کې د اوسیدونکو د عایداتو اندازه هر کال ۹.۱ سلنه زیاته شوې ده. په کلیو کې د اوسېدونکو لپاره څه د پاسه یو میلیون ۶ لکه ۹۰ زره نوي کورونه، په ښارونو او علاقه‌داریو کې څه د پاسه یو میلیون ۵ لکه ۶۰ زره نوي کورونه جوړ شوي دي، چې څه د پاسه لس میلیونه اوسیدونکي نویو کورونو ته لېږدول شوي دي. په ښارونو او کلیو کې د بنسټیزو عامه خدمتونو سویې په پرله پسې ډول لوړې شوې دي، د ټولنیز ضمانت سیسټم ورځ په ورځ بشپړ شوی، ټولو خلکو ته په وړیا توګه د روغتیایي معایناتو د اسانتیاوو تدبیرونه برابر شوي، په کلیوالو او د مالدارۍ په سیمو کې د طبي تاسیساتو شرایط په لازمه توګه ښه شوي او په کلیو او علاقه‌داریو کې د طبي مرکزونو او روغتونونو د معیاري کېدو اندول پوره شوی او په بنسټیزو طبي بیمو کې د اوسیدونکو د شاملېدو اندول ۹۹.۷ سلنې ته رسېدلی دی. پر دې سربېره، په شینجیانګ کې د بېوزلۍ له منځه وړلو کارونو ګام په ګام پرمختګ او بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي. په ۲۰۱۴ کال کې په شینجیانګ کې د بې وزله خلکو شمېر څه د پاسه درې میلیونه و، د بې وزله کلیو شمېر ۳۶۶۶ او د بې وزله ولسوالیو شمېر ۳۲ ته رسیده. تر ۲۰۱۹ کال پورې په ټول شینجیانګ کې څه د پاسه ۲ میلیونه ۹ لکه ۲۲۳ زره اوسیدونکي، څه د پاسه درې زره بې وزله کلي او ۲۲ بې وزله ولسوالۍ له بې وزلۍ څخه وتلي دي.

په عمومي ډول په شینجیانګ کې اوسمهال ټولنیز ثبات او خوندیتوب رامنځ ته شوی، خلک په امن، خوندي او ارامه چاپېریال کې کارونه او ژوند کوي. له دغو واقعي شمیرو څخه څرګندیږي چې په شینجیانګ کې د ترهګرۍ او توندلارۍ له منځه وړلو او د اقتصادي پرمختګ هڅولو په چارو کې د حکومت تر سره کړي کارونه بریالي وو او له سترو لاسته راوړنو سره مل تر سره شوي دي.

# د بین الافغاني خبرو څنډنی بهیر؛

## په هېواد کې خونړۍ جګړې او په دوحه کې په ټپه ولاړو مذاکراتو اندېښنې پارولې دي



په قطر کې د طالبانو او افغان حکومت د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ شوې دي. د وروستیو معلوماتو له مخې، د دواړو لورو د ټیمونو ترمنځ پر ځینو مواردو ژور اختلاف موجود دی او له هڅو سره سره دغه اختلافات نه دي حل شوي چې له امله یې بین الافغاني مذاکرات ځنډېدلي دي. تر دې دمه خبرې پر طرزالعمل رواني دي، خو په دغه کړنلاره کې داسې موارد شته چې دواړه لوري ورباندې د نظر اختلاف لري. له دې سره جوخت نه یوازې دا چې طالبانو تازه تبلیغاتي مانورې پیل کړې دي، بلکې تر څنګ یې خپل بریدونه هم ډېر کړي او عملاً د جګړې ډګر تود دی.

د سپتمبر په ۱۲ مه په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو د پلاوي ترمنځ مخامخ مذاکرات پیل او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د مذاکراتو دا لړۍ پرانیستل شوه. تر هغه وروسته دواړو لورو واړه ګروپونه وګومارل او هغه ته یې د تماس ډلې نوم ورکړ چې د مذاکراتو لپاره به تګلاره ټاکي او د مذاکراتو د بهیر لپاره به اصول رامنځ ته کوي، خو دغه ډلې تر دې دمه کومې پایلې ته نه دي رسېدلي او ترمنځ یې اختلافات د دې لامل شوي چې بین الافغاني مذاکرات له ځنډ او خنډ سره مخ شي.

د طالبانو د مذاکراتي پلاوي غړو بیا تور پورې کړی چې حکومتي لوری په لوی لاس په مذاکراتو کې خنډونه جوړوي او هڅه یې دا ده چې خبرې وځنډېږي. د طالبانو د مذاکراتي پلاوي غړي مولوي خیرالله خیر خواه په خپله یوه تازه مرکه کې ویلي چې د مذاکراتو لپاره باید د طالبانو او امریکا توافق د اصل په توګه وټاکل شي او پرېکړې به د حنفي فقهې پر بنسټ کېږي. هغه زیاتوي چې افغان حکومت ورسره دا مسایل نه مني. د ده په وینا: ((د طالبانو او امریکا هوکړه باید د اصل په توګه ومنل شي، ځکه د همدې هوکړې پر بنسټ بین الافغاني مذاکرات پیل شوي دي، دا هوکړه وخت په وخت له افغان حکومت سره شریکه شوې ده، دوی منلې ده، نو که دا نه منل کېږي، نو بیا مذاکرات پر کومه مسئله د څه له مخې پیلېږي؟))

د طالبانو د مذاکراتي پلاوي بل غړي مولوي عبدالسلام حنیفي هم ویلي چې حکومتي لوری په مذاکراتو کې خنډونه رامنځ ته کوي. د ده په وینا، طالبان په رښتیني توګه غواړي چې مذاکرات مخ ته لاړ شي او روانه جګړه د خبرو له لارې حل شي، خو افغان حکومت د ګڼو اصولو له منلو ډډه کوي. د ده په خبره: ((مور په رښتیني توګه غوښتل چې ژر تر ژره باید په اجنډا کې داخل شو. مور غوښتل یوه ګډه اجنډا ژر مخ ته یوسو)).

مولوي حنفي وایي چې دمګړۍ اختلاف پر دوو مواردو دی. یو دا چې مذاکرات د دوحې د هوکړې پر بنسټ مخ ته وړل کېږي او بل هم په فقهي برخه کې اختلاف دی. هغه ټینګار کړی چې طالبان پر خپل دریځ ولاړ دي او حکومتي لوري ته هم په کار ده چې د خنډونو له جوړولو ډډه وکړي.

بلخوا د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي غړي هم وایي چې طالبان د اختلافونو حل ته تیارې نه ښیي او د خپلو خبرو پر منل کېدو ټینګار کوي. د دوی په خبره، طالبان خپلې ۱۹ کلنې جګړې ته جهاد وایي، خو افغان پلاوی یې مخالفت کوي، طالبان دغه راز د اساسي قانون د بدلون په لټه کې هم دي، په داسې حال کې ولسمشر غني تېره ورځ هم اساسي قانون د هېواد ملي وثیقه یاده کړې او په هغه کې یې هر ډول اختلاف رد کړی دی.

بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا رییس بیا ورمه ورځ ناوخته له افغان مذاکراتي پلاوي سره خبرې کړې او دوی ته یې نوې سپارښتنې کړې دي. د ده په خبره، دغه ډله باید په هېواد کې روانه جګړه ختمه کړي او له خپل ټول قوت په استفادې باید د هېواد د ملي ګټو د ساتنې لپاره هڅه وکړي.

# روحاني: د امریکا د اقتصادي بندیزونو له کبله ایرانیانو ته ۱۵۰ میلیارده ډالره زیان اوښتی



د ایران ولسمشر په یوه ټلوېزیوني وینا کې د امریکا متحده ایالتونه پر دغه هېواد د بندیزونو له کبله په وحشیتوب تورن کړي دي. د ایران ولسمشر حسن روحاني له خپلو هېوادوالو غوښتي چې د امریکا د بندیزونو د اغېز په اړه خپله غصه پر واشنګټن متمرکزه کړي.

نومړي ویلي، امریکا په ناقانونه مجازاتو او د ده په خبره، ترهګریزو کړنو سره د ایران خلکو ته ۱۵۰ میلیارده ډالر زیان رسولی. روحاني ویلي چې امریکایانو په دې وروستیو کې اعلان وکړ چې ایران ته مو لسګونه میلیارده ډالر زیان رسولی دی، دوی په ناسمو، ناقانونه او غیر انساني بندیزونو سره په ۹۷م، ۹۸م او ۹۹م کال کې ایران ته ټولټال ۱۵۰ میلیارده ډالره زیان اړولی دی.

نومړي ویلي، دغه بندیزونه ان د خوراکي توکو او درملو د اخیستو مانع شوي، په داسې حال کې چې د ده په خبره، دغه ډول بشردوستانه تجهیزات د امریکا له بندیزونو مستثنی دي. روحاني زیاته کړې، ډېر شرکتونه له قوانینو د سرغړونې له وېرې له ایران سره له معاملو ډډه کوي. د ایران ولسمشر دغه راز زیاته کړې چې د ایران د خلکو پر وړاندې د ټولو فشارونو ادرس سپینه ماڼۍ ده.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران په اټومي فعالیتونو او تسلیحاتي پروګرامونو کې د ښکېلو کسانو او بنسټونو پر ضد د ایران نوي بندیزونه د سپتمبر په ۲۱مه اعلان شول. دا بندیزونه د ډونالډ ټرمپ د اداري د هغو اقداماتو یوه برخه ده چې له مخې یې دغه هېواد دوه کاله وړاندې د ایران له اټومي تړونه په شا شو.

له همغه وروسته د تهران او واشنګټن ترمنځ ناندرۍ زیاتې شوې دي. پر دې سربېره، دوې ورځې وړاندې امریکا په ایران کې پر ځینو قاضیانو او محکمو له دې ډلې پر هغه قاضي بندیزونه ولګول چې د غېږ نیونې د پهلوان نوید افکاري د اعدام حکم کې شامل و.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، واشنګټن به تر هغو پر ایران فشارونو ته دوام ورکړي چې تهران د ده په خبره، له بدو کړنو لاس واخلي او هر اړخیزو خبرو ته لېواله شي.

په ورته وخت کې د ایران ولسمشر په خپلو څرګندونو کې پر مایک پامپیو هم کلکې نیوکې وکړې او هغه‌یې د جنایت وزیر یاد وباله.

## د کتـــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري
## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### درېیم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




**ـ هوايي دهلیزونه**

هوايي دهلیزونه د سیمه‌ییزې همکارۍ یو نوی ډول او بڼه ده چې په دې وروستیو کې ډېر هېوادونه د سوداګریزو اړیکو او همکاریو د پراختیا په موخه ور څخه استفاده کوي، د افغانستان حکومت په دې وروستیو کې بهرته د خپلو سوداګریزو توکو د صادرولو په موخه له هوايي دهلیزونو څخه ګټه اخیستل پیل کړي دي . اوسمهال افغانستان له هند، چین، متحده عربي اماراتو او ځینې نورو هېوادونو سره د هوايي دهلیزونو له لارې سوداګري کوي او خپل سوداګریز توکي په ځانګړې توګه وچه او تازه مېوه دغو هېوادونو ته د همدې هوايي دهلیزونو څخه په استفادې صادروي. د سیمې له نورو هېوادونو سره هم د هوايي دهلیزونو له لارې د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه زیات فرصتونه شته او افغانستان کولای شي له دې لارې د سیمې له هېوادونو سره خپلو سوداګریزو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي او د دې نویو هوايي دهلیزونو پرانیستل به د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي .

**ـ اقتصادي او پراختیايي همکاري**

په سیمه کې سوله‌ییز پرمختګ، نږدې همکاري، د نظریاتو تبادله، د سیمه‌ییزې همکارۍ او د ګډو ګواښونو پرضد د مبارزې او د اوږد مهاله اقتصادي پروژو د عملي کولو لپاره د سولې او ثبات ټینګښت اود سیمې د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو پراختیا ډېره مهمه ګڼل کېږي .د اقتصادي او پراختیا همکاریو د پراختیا په موخه د افغانستان حکومت د سیمې له ځینې هېوادونو سره تړونونه لاسلیک کړي، چې له هغې جملې مهم تړون دلاجوردو لارې د بیا جوړېدو په اړه دی د لاجوردو لارې په اړه تړون د ۲۰۱٦ زکال د نومبر په ۱۹مه نېټه د افغانستان، ترکمنستان، اذربایجان، ترکیې او ګرجستان ترمنځ لاسلیک شو، د دې کریډور له لارې به افغانستان تورې بحیرې او د مدیترانې بحیرې ته لاسرسی پیدا کړي دغه کریډور د وربښمو د لویې لارې پروژې یوه برخه ګڼل کېږي، چې له مخې به یې مرکزي او جنوبي اسیا له اروپا سره وصل شي او افغانستان به د دې لارې په مرکز کې واقع وي .

**ــ د سیمه‌ییزې سوداګرۍ، ګمرکاتو او د پولو د مدیریت په برخه کې همکاري**

د پورتنۍ پروژې هدف د عوایدو زیاتول، د صادراتو او وارداتو مدیریت او د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د پولو او ګمرکاتو د مدیریت د طرزالعملونو ساده کول دي .د پورتنیو اهدافو د ترلاسه کېدو په صورت کې د عوایدو د تېښتې د مخنیوي، د اغېزمنتوب رامنځته کېدو، د مصارفو د کمېدو، او د وخت د ضایع کېدو د مخنیوي لپاره زمینه او شرایط برابرېږي. افغانستان د ۲۰۱٦ زکال د جولای پر ۲۹مه نېټه د سوداګرۍ د نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ، له همدې امله د افغانستان حکومت مجبور و چې د سیمې له هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزیټ د نویو تړونونو د لاسلیک په اړه مذاکرات او خبرې پیل کړي . د همدغو خبرو په پایله کې په ۲۰۱٦ او ۲۰۱۷ زکلونو کې افغانستان له ایران او چین سره د ګمرکاتو او د تاجکستان د ګمرکاتو له ادارې سره تړونونه لاسلیک کړل .

**دـ د اسیا زړه استانبول پروسه**

د ۲۰۱۱ زکال په نومبر کې د افغانستان په تړاو د اسیا زړه استانبول پروسه پیل شوه، د استانبول پروسې موخه هغو ستونزو ته چې افغانستان او سیمه ورسره مخامخ وه د امنیتي او اقتصادي همکاریو د پراختیا او خبرو اترو له لارې د حللارو پیدا کول دي .له ۲۰۱۱ زکال راهیسې د استانبول پروسې د سوداګرۍ، تجارت، پانګونې او زېربناوو جوړولو په برخه کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کړې . د استانبول پروسې په افغانستان کې د ثبات او سولې د ټینګښت او سیمه‌ییزو ستونزو ته د حل په موخه د سیمه‌ییزو سیاسي خبرو او امنیتي او اقتصادي همکاریو پراختیا ته ډېره پاملرنه کوي . د استانبول پروسې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اعتماد او باور رامنځته کولو په اړه دوه ډوله تګلارې او اقدامات معرفي کړي وو، لومړی اقدام د سوداګرۍ، تجارت او پانګونې او دویم اقدام د زېربناوو جوړولو په برخه کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا وه .

د اسیا زړه افغانستان او د افغانستان ګاونډ کې پرتو سیمو ته کارول کېږي، افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیايي موقعیت له مخې د جنوبي اسیا، مرکزي اسیا، منځني ختیځ او اروپا د نښلولو په برخه کې مهم رول ترسره کولای شي .د اسیا زړه پروسې هدف یې د سیمه‌ییزې همکاریو د پراختیا لپاره د یوې ځانګړې اجنډا رامنځته کول دي، د دې اجنډا له مخې به افغانستان د سیمه‌ییزو همکاریو مرکز واوسي او په دغه پروسه کې به د اسیا زړه پروسې غړي مهم رول ولري، چې له مخې به یې په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د سیمې هېوادونو ترمنځ همکاري پراختیا پیدا کوي.

**دوام لري...**

# پکتیکا

حشمت الله نوري



پکتیکا د هېواد سوېل- ختیځ ته پروت ولایت دی، چې مېشتو وګړو یې د تاریخ په اوږدو کې د هېواد په جوړښت او دفاع کې ټاکونکې ونډه لرلې ده.

د پکتیکا ولایت شمال او شمال- لوېدیځ ته غزني او د لوېدیځ په یوه څنډه کې یې زابل او د پاکستان هېواد د بلوچستان ایالت موقعیت لري. سوېل او سوېل- لوېدیځ ته له شمالي او سوېلي وزیرستان سره اوږده پوله لري. دغه ولایت له مرکز کابل څخه ۲۱۰ کیلومتره واټن لري، چې په درېیمه درجه ولایتونو کې راځي. نوموړی ولایت له پاکستان هېواد سره ۳٦۰ کیلومتره اوږده پوله لري او مساحت یې ۳٦۳٦۰ کیلومتره مربع دی.

پکتیکا د جغرافیوي موقعیت له پلوه د عرض البلد ۳۱.۵۹ تر ۳۳.٤۲ او د طول البلد ٦۷.۸۱ تر ٦۹.۵٤ درجو موقعیت لري.

دغه ولایت د اقلیم له مخې، په اوړي کې تود وي او د حرارت درجه یې تر ۳۵ سانتي‌ګراد پورې رسېږي او په ژمي کې یې هوا سړه وي، چې د حرارت درجه یې ان تر منفي ۱۰ - ۲۰ پورې هم رسېږي.

**ولسوالۍ**

دغه ولایت د اداري ویش له مخې پر مرکز سربېره، ۱۹ ولسوالۍ مرکز ښرنه، متاخان، یوسف خېل، یحی خېل، اومنه، سر روضه، زرغون شهر، جاني خېل، ګومل، سروبي، اورګون، زیړوک، نکه، ډیله خوشامند، وازه خواه، تروې، وړممۍ، برمل، ګیان او میشت لري.

په دغه ولایت کې اکثریت پښتانه، خو په ځینو سیمو کې په کم شمېر تاجک هم مېشت دي. علي خېل، سلېمانخېل، خروټي، ځدراڼ، وزیر، اندړ، اورګوني، سلېمانزي او دېګان یې مهشور قومونه دي.

د کلیو شمېر یې ۲۳۷۰ دی او د مرکز په ګډون یې هره ولسوالۍ قومي شورا لري.

**کلتور**

په پکتیکا کې هم د نوي حکومت په راتلو سره کلتوري فعالیتونه پراخ شوي، رسنۍ فعالې شوې او کلتوري ټولنې هم ورسره رامنځ ته شوې دي.

په دغه ولایت کې دا مهال په اطلاعاتو او کلتور ریاست او ځینو ښوونځیو کې کتابتونونه جوړ شوي، خو تر څنګ یې د ځینو فرهنګي کړیو له لوري هم عامه کتابتونونه پرانیستل شوي، چې خلک ترې ګټه پورته کوي؛ خو په هغه کچه نه دي چې لازمه ده.

په یاد ولایت کې د پکتیکا مدني ټولنه، د پکتیکا د خپلواکو ژورنالېستانو ټولنه، د پکتیکا د ځوانانو فرهنګي ټولنه، د اورګون د ځوانانو فرهنګي ټولنه، د ځوانانو عالي شورا، د پکتیکا د دوکاندارانو اتحادیه، د ښرنې د قومونو یووالي عالي شورا، غاټول ټولنه او پکتیکا ادبي بهیر هم فعالیت کوي، چې وخت نا وخت ادبي او ټولنیزې غونډې جوړوي او مشاعرې کوي .

**تاریخي ابدې**

په پکتیکا کې ډېر تاریخي ځایونه شته، چې ښه بېلګه یې د ښرنې ښار ختیځ ته پطنه غونډۍ ده. دغه غونډۍ له اسلام څخه وړاندې اوږد تاریخي قدامت لري. دې ته ورته د پکتیکا ولایت په نورو سیمو کې هم تاریخي ځایونه شته، چې د ګومل ولسوالۍ یې هم ډېره مشهوره ده او د خروټو د قوم له پیدایښت سره تړاو لري، ځکه چې ګومل د ټولو خروټو مور ده او له همدې ولسوالۍ څخه د خروټو د نسل شجره راپیل شوې ده.

د سیمې تاریخي لیکوالان په دې باور دي چې د ګومل په اړه د سلطان محمود غزنوي په وخت کې د پوځ د یوه افسر په سر یوې مېرمنې د ګومل په اړه دا ټپه هغه وخت وویله، چې خاوند یې د هندوستان د فتح کولو لپاره تللی و او دغه افسر خالو نومېده.

که د خالو لښکرې راغلې
زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

دغه راز په کې د ویس کرني بابا، باباجي صاحب، حیات بابا، دیوانه بابا، اغا مبارک، کاکا مبارک، زاهد بابا او جبار نیکه زیارتونه ډېر مشهور او تاریخي دي. په دغه ولایت کې د سید جلال بخاري (رح) او ځینې نور مشهور ځایونه هم شته.

**رسنۍ**

د حامد کرزي د نوي حکومت په راتلو سره په دغه ولایت کې هم د نورو ولایتونو په څېر ځینو خپلواکو او دولتي رسنیو فعالیت پیل کړی دی.

دا مهال په دې ولایت کې یوه دولتي او څلور خصوصي راډیوګانې فعالیت کوي. دولتي یې پکتیکا ملي راډیو او خصوصي یې ټولنه ایف ایم، پښتون غږ، پکتین غږ او مېلمه راډیو نومېږي.

پر راډیوګانو سربېره، ځینې چاپي رسنۍ هم په کې فعالیت کوي، لکه پکتیکا مجله، فکري رغون، ښرنې جریده، ټولنه مجله، غاټول مجله او مېلمه مجله.

**پوهنه**

که څه هم چې پکتیکا یو سرحدي ولایت دی او د پوهنې په برخه کې تخنیکي ستونزې لري؛ خو بیا هم په کې ټول ښوونځي پرانیستي دي.

په دغه و لایت کې کابو ۳٤٤ ښوونځي فعال دي، چې نجونې او هلکان په کې پر زده کړو بوخت دي. په پکتیکا ښار او ولسوالیو کې د ځینو فرهنګي کړیو له لوري وړې کتابخانې پرانیستل شوې دي، خو هغه ډول چې لازمه ده استفاده ترې نه کېږي. په دغه ولایت کې دا مهال د اطلاعاتو او کلتور ریاست له عامه کتابتون، د پښتون غږ کتابخانه، د غازي ادې عامه کتابتون، د ښوونځیو او لېسو کتابخانو سربېره، له ځینو نورو وړو کتابتونونو د مطالعې مینه‌وال استفاده کوي.

**صنعت**

د پکتیکا مسګران او پښان (اهنګران) د بزګرۍ، ترکاڼۍ او نورو چارو وسایل او لوښي لکه بېل، کلنګ، تېشه، رنده، مارتول، جبل، دیګونه او داسې نور څېزونه جوړوي چې لا یې هم ارزښت پر خپل ځای او ګرم بازار لري.

د دې تر څنګ، په دې ولایت کې ښځینه ګنډونکې هم په کار اخته دي او خپلې ورځنۍ کورنۍ اړتیاوې له همدې لارې پوره کوي.

د مسګرۍ او اهنګرۍ تر څنګ په کې نجارې، تغر او لیمڅې جوړول هم خورا ښه دود دي.

**کرنه**

په پکتیکا کې که څه هم چې دښتې ډېرې دي او حکومت یې خړوبونې ته پام نه دی کړی؛ خو بیا هم ٦۵ سلنه وګړي یې په بزګرۍ اخته دي. مشهور کرنیز پیداوار یې غنم، جوار، اوربشې، مۍ او لوبیا دي.

دغه ولایت د جلغوزیو او بادامو تر څنګ، انګور، مڼې او زردالو هم لري. جلغوزي یې په سروبي، اومنې، ګیان، ګومل، زیړوک، نکه، چهارباران او سر روضه کې پیدا کېږي. انګور په مرکز یوسف خېل، خیرکوټ او متاخان کې په زیاته اندازه پیدا کېږي. مڼې او زردالو یې نږدې په ټولو سیمو کې بیا شته.

د دغه ولایت ډېری کروندګر او بزګران اوس د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو ایستلو له برمو (ماشینونو) ګټه اخلي او وروستیو وچکالیو د دې ولایت د مرکز او ټولو ولسوالیو ډېری کاریزونه وچ کړي، چې په ډېره کمه اندازه کاریزونه یې اوسمهال بهېږي. له بزګرۍ سره سره یې خلک په مالدارۍ هم اخته دي.

پکتیکا په پراخو دښتو سربېره، ګڼ غرونه او ځنګلونه لري چې خلک یې د کاریزونو او خوړونو د اوبو تر څنګ، په ژورو ځاګانو خپلې کرنیزې ځمکې او باغونه خړوبوي. په پکتیکاکې غنم، جوار، اوربشې للمي ریشې، شفتلې او د انګورو، مڼو، بادامو، زردالو په باغونو سربېره، د بېلابېلو مېوو او سبزیو پالېزونه لري. په غرونو کې یې د سون او په نجارۍ کې د استعمال د لرګیو ګڼ ځنګلونه لري، چې مېوه‌جات یې د پکتیکا، نورو ولایتونو او له هېواد نه د باندې هم صادرېږي.

**وحشي حیوانات**

په دغه ولایت کې هغه مهال چې غرونه یې ګڼو ځنګلونو پوښلي وو، بې شمېره او ډول ډول وحشي حیوانات لکه پړانګان، زمري، لیوان، هوسۍ او داسې نور موجود وو، خو په دې وروستیو کې د دغه ولایت د څو ولسوالیو چې د غرونو بوټې او ونې یې وهل شوي دي، د حیواناتو شمېر هم پکې خورا کم شوی دی، حتی چې په ځینو سیمو کې په نشت حساب دي. د دغه ولایت په لرې پرتو سیمو او د ښار په شاوخوا کې خلک زیات مالونه لري.

**لوبې**

په دغه ولایت کې خلک پر دودیزو لوبو سربېره، له نورو عصري لوبو لکه فوټبال، والیبال، باکسټبال او کرکټ سره هم مینه لري.

په دودیزو لوبو کې یې نېزه وهل، خوسۍ، چندکۍ، بېډۍ، مردکې، غېږه نیول، کوله شتره، پټ پټونې، چکه، پرې او کرم بوټ شامل دي.

پکتیکا د فوټبال، والیبال، او باسکټبال لپاره مناسب لوبغالي هم لري، چې د ځوانانو د فرهنګي ټولنې د مشر عزیزالله امیري په مالي لګښت جوړ شوي دي. که څه هم د لوبې مینه‌وال په دې ولایت کې ډېر دي؛ خو لا یې هم دولت سپورټي برخې ته لازمه پاملرنه نه ده کړې.

همیانی

# د ژوند مانا او موخه څه ده؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

که چېرې ستاسو د ژوند کولو انګېزه یوازې له شتمنۍ سره مینه درلودل، مادیاتو ته ارزښت ورکول او یوازې په دې نړۍ کې پرمختګ او وده کول وي، که چېرې یوازې د نورو د نظریاتو اړوند ژوند کوئ او یوازې همدا څو ورځې نړۍ او د هغې اسانتیاوې مو د خپل ژوند لومړیتوب ګرځولې وي، اوس د دې وخت را رسېدلی څو له دې دام څخه ځانونه خلاص کړئ. له دې دام څخه د خلاصون لاره دا ده چې پرېکړه وکړئ، له پوره پوهې سره په دې اړه پرېکړه وکړئ چې د ژوند مانا او موخه مو څه ده او غواړئ چې ژوند مو د کوم محور پر شاوخوا راوګرځي.

کله چې خپل شاوخوا ته ګورم، ډېر داسې کسان وینم چې ډېر تریخ ژوند تېروي. زما په باور دا چې هغوی د ژوند له خوندونو او بریالیتوبونو څخه بې برخې دي، لامل یې دا نه دی چې د ژوند په لوبه کې ګټونکي نه دي، بلکې لامل یې دا دی چې له همغه لومړي سره د ژوند په مانا او مفهوم نه دي پوهېدلي. که چېرې مو دغه پوهه لاسته راوړه، په هر ځای کې کولای شی د بریالیتوب احساس وکړی. اړینه نه ده چې د سپوږمۍ کُرې او خاورې ته سفر وکړی څو د بریالیتوب احساس لاس درکړي، بلکې کولای شی د خپل همدې ساده ژوند په اوږدو کې هم تر ټولو لوی بریالیتوب او خوند تر لاسه کړی؛ ځکه چې موږ د خپل ژوند تر ټولو لویه برخه بریا ته د رسېدو په لاره کې تېروو. البته زما موخه دا نه ده چې د راتلونکي په اړه لیدلوری مه لرئ او په خپل ذهن کې هیلو او موخو ته وده مه ورکوئ، بلکې غواړم ووایم چې دغه



کار د هغو غوره څیزونو د له لاسه ورکولو په بیه مه تر سره کوئ، چې د ژوند د لارې په اوږدو کې مو لاسته راځي.

غواړم پوه شئ چې تاسو د یوې ټاکلې موخې د حقیقت لپاره دې نړۍ ته راغلي یاست، لوی رسالت او مسوولیت پر غاړه لری او اړینه ده چې ډېر ارزښتمن او غوره کارونه تر سره کړی، هغه که د خپل ځان لپاره وي او یا هم د نورو لپاره.

د بریالیتوب د رازونو په لړ کې د دې برخې موخه دا ده چې تاسو اړ باسي څو له ځانه وپوښتئ چې: «ایا په ژوند کې پر کار پوه کس یاست او که د کار اخیستو وړ کس؟» د دې دواړو تر منځ لوی توپیر موجود دی. که چېرې تاسو پر کار پوه یاست، په دې مانا ده چې کارونه په ښه توګه تر سره کولای شی، خو که چېرې د کار اخیستو وړ یاست، په دې مانا ده چې ښه کارونه تر سره کولای شی.

ایا تاسو هغه کارونه تر سره کوی چې د ژوند لوی خوند ستاسو په واک کې درکوي؟ ولې هغه کارونه چې غواړی تر سره یې کړی، تر سره کوی یې او دغه کارونه تاسو کومې موخې ته رسوي؟ موږ ټول هغه څه ته اړتیا لرو چې زه یې «د ژوند قوانین» بولم، د هغو معیارونو ټولګه چې غواړو په ژوند کې څه ډول انسان و اوسو او په څه ډول حالتونو کې ژوند وکړو؛ ځکه همدا معیارونه دي چې د هغوی په مراعاتولو سره پر خپلو خلکو اغېز کولای شو.

یوه شېبه دمه وکړئ او په دې اړه فکر وکړئ چې ولې دې نړۍ ته راغلي یاست او ستاسو د ژوند مانا او موخه څه ده؟ له اوسني حالت څخه پورته لاړ شئ او پر اَبَدیَت قدم کېږدئ. هر کله مو چې د نا امنۍ احساس وکړ، پر ابدي شیانو فکر وکړئ او په یاد راوړئ چې ستاسو په دروني وجود کې بې پایه څه شته، هغه بدلون نه منونکي شی چې تاسو ته د دې پوهه درکوي چې څه سم دي، څه باید وکړئ او د څه لپاره نړۍ ته راغلي یاست. کېدای شي دغه معقوله طبیعي، مذهبي او یا هم معنوي ښکاره شي، خو په هر حال، تاسو د یو لامل له مخې دې نړۍ ته راغلي یاست او دا هغه ځانګړی لامل دی چې یوازې تاسو ترې خبر یاست.

دا چې تر اوسه مو دې نړۍ ته د راتلو لامل نه دی کشف کړی، کېدای شي علت یې دا وي چې تاسو د یو لوی او عمده څیز په لټه کې یاست. کېدای شي همدا اوس هغه شی په خپل ژوند کې یې لری، خو هغه ته ارزښت نه ورکوی، کېدای شي هغه کار چې همدا اوس یې تر سره کوی، همغه ستاسو د ژوند موخه او مقصد وي، کېدای شي دا همغه کار وي چې تاسو کرکه ترې لری. کېدای شي هغه کار چې اوس یې تر سره کوی، هغه موکه ستاسو په واک کې درکړي چې وکولای شی په خپل دروني وجود کې داسې څه کشف کړی، چې تاسو ته د دې شونتیا درکوي څو خپلې ورتیاوې لا وغوړوی او ځان ته لا ډېره وده ورکړی. په ژوند کې له دوو شیانو زیات څه نه دي شامل: شته والي او تر سره کول. مطلب مې دا دی چې په پایله کې زموږ سرنوشت له دې لارې چې څه ډول انسان یو او څه تر سره کوو، بدلون مومي. تاسو د څه لپاره نړۍ ته راغلي یاست؟ د زده کړې، ودې کولو او غوره اغېزو پرېښودلو لپاره؟ ستاسو د ژوند موخه څه ده؟

زه دا پوښتنې په دې هیله مطرح کوم څو تاسو یې په اړه فکر وکړئ. تاسو باید د خپل ژوند مانا او موخه کشف کړئ. په دې نړۍ کې ستاسو لپاره بېله او ځانګړې نقشه او طرحه شته چې له بل هر چا سره توپیر لري او اړینه ده چې کشف یې کړئ او لاسته یې راوړئ. د دغې نقشې او طرحې د کشف تر ټولو غوره لاره دا ده چې باید پر خپل زړه، هوښ او وړتیاوو باور وکړئ. که چېرې د خپل ژوند مانا او موخه کشف نه کړئ، څه ډول کولای شی چې د ژوند په لوبه کې ګټونکي شی؟ څه ډول کولای شی چې له ژوند څخه مو خوند واخلی؟

## ناټو: طالبان دې د سولې په بهیر کې د باور جوړونې لپاره تاوتریخوالی راکم کړي

د افغانستان لپاره د ناټو ملکي استازی ستیفانو پونتیکورو وایي، طالبان باید پوه شي چې تېرو ۱۹ یا ۲۰ کلونو ته د بېرته تللو لاره نشته او افغانان باید داسې حکومت جوړ کړي چې دواړو خواو ته د منلو وړ وي.

نوموړي ویلي چې د سولې په هوکړه کې باید د تېرو کلونو لاسته راوړنې خوندي شي. د هغه په خبره: «هغه سوله ارزښتمنه ده چې د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنې پکې وساتل شي، د ښځو حقوق، د خلکو حقوق په ټوله کې بشري حقوق، د رسنیو ازادي، دا یوازې هغه څه دي چې د تلپاتې سولې ټینګېدو لامل کېدای شي.»

د ناټو ملکي استازي له امریکا غږ سره په مرکه کې ویلي چې ناټو په افغانستان کې د بیان او د رسنیو د ازادۍ ملاتړ کوي او هېڅکله به د داسې حکومت ملاتړ ونه کړي چې د رسنیو ازادي محدوده کړي.

پونتیکورو د قطر په پلازمېنه دوحه کې د سولې مذاکرات واقعي وبلل، خو ویې ویل چې د تاوتریخوالي کچه لوړه ده او د منلو نه ده. نوموړي دغه راز وویل چې که طالبان ادعا کوي چې د افغانستان د ولس په اړه اندېښمن دي، باید د سولې د بهیر لپاره اعتماد رامنځ ته کړي او تاوتریخوالی راکم کړي.

نوموړي زیاته کړې: «د سولې بهیر به له ستونزو ډک وي، خو که باور نه وي، څو ځله به ستونزمن وي، د تاوتریخوالي کمېدل د دواړو لورو ترمنځ د باور جوړولو په مانا دي.»

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني هم تېره اونۍ هیله وښوده چې د سولې روان مذاکرات کامیاب شي او وار د مخه یې پلانونه نیولي چې څنګه طالب جنګیالي په ټولنې کې مدغم کړي.

هغه له افغانستان څخه د امریکایي او ناټو ځواکونو د وتلو په اړه وویل چې متحده ایالات او ناټو یوځای افغانستان ته تللي او ګډ ماموریت یې پرمخ وړی او په ګډه به له دغه هېواده ووځي.

د افغانستان لپاره د ناټو ملکي استازی وایي، په افغانستان کې د سولې تر توافق وروسته که له دغه سازمان څخه د طالب جنګیالیو د «ادغام» په برخه کې د رول لوبولو غوښتنه وشي، له دغه بهیر سره به مرسته وکړي.

## عمران خان: د سولې د روان بهیر له امله افغان جګړه پای ته رسېدو ته نږدې شوې ده

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ د روانو خبرو له امله افغان جګړه ختمېدو ته نږدې شوې ده.

عمران په واشنګټن پوسټ ورځپاڼه کې په خپره کړې مقاله کې ویلي، که څه هم په دې برخه کې به ستونزې وي، خو بریالیتوب یې د ټولو اړخونو زغم او حوصلې ته اړتیا لري. هغه ویلي: «په افغانستان کې د سولې په اړه خبرې کېدای شي له ستونزو سره مخ وي، د ټولو اړخونو صبر او حوصلې ته اړتیا لري، کېدای شي پرمختګ وکړي، خو ستونزې به وي، کېدای شي کله ناکله به ګډوډې وي، ځکه چې افغانان د خپل راتلونکي لپاره کار کوي.»



نوموړي زیاته کړې چې له بهرني زور څخه په استفادې په افغانستان کې سوله او ثبات نشي راتلی، بلکې په خبره یې، یوازې د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د روغې جوړې له لارې راتلی شي. هغه د سولې خبرو په جریان کې په افغانستان کې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د تاوتریخوالي پر کمېدو هم ټینګار کړی دی.

دا په داسې حال کې چې ولسمشر غني او عمران خان د تلې پر څلورمه د ټلیفون له لارې د دواړو هېوادونو د اړیکو، د سولې د بهیر او په افغانستان کې د اوربند په اړه خبرې کړې دي. ارګ ویلي چې غني په دغو خبرو کې پر اوربند ټینګار کړی او د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ته یې افغانستان ته د رسمي سفر بلنه ورکړې ده.

په بیان کې د عمران خان له قوله راغلي: «موږ په افغانستان کې د اوربند ټینګښت بشپړ ملاتړ کوو.»

دغه راز د پاکستان لومړي وزیر د سپټمبر پر ۱۲مه په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو پیلېدل د افغانستان، سیمې او پاکستان لپاره هیله ښونکي بللي دي. خان ویلي چې د افغانستان کړکېچ تر افغانانو وروسته د پاکستان پر اقتصادي وضعیت هم منفي اغېز کړی دی. هغه په پاکستان کې د مخدره موادو او وسلو تور بازار پراخېدل د افغان جګړې د اغېزو له امله بللی دی. عمران خان یو ځل بیا زیاته کړې، تر څو چې په افغانستان کې سولې ټینګه نه شي، په پاکستان کې هم سوله نه شي راتلی.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۰۵ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ٤٦٨ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰،۵۰ |
| £ | ۹۷،۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسير ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلي اوومه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۸مه | ۶۰۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ | ۲۶ | ۳۲ | ۲۶ | ۳۲ | ۲۸ |
| ۱۳ | ۹ | ۱۳ | ۱۴ | ۲۱ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۲۳ | لمر ختل ۰۵:۴۵ | ماسپښین ۱۱:۴۵ | مازیګر ۰۳:۰۹ | ماښام ۰۵:۴۴ | ماخوستن ۰۷:۰۷

## نړۍ



**روحاني: د امریکا د اقتصادي بندیزونو له کبله ایرانیانو ته ۱۵۰ میلیارده ډالره زیان اوښتی**

۳

## مؤحد: در سه ماه گذشته به شمول ٦ خانم ۳۵۲ تن به ظن قاچاق مسکرات ومواد مخدر بازداشت شده اند





مرکز عدلی وقضایی مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر می گوید که در جریان ربع دوم سال۱۳۹۹بطورمجموعی ۲۵۹ قضیه به مظنونیت ۳۵۲ تن به شمول ٦ خانم به ظن قاچاق مسکرات ومواد مخدر داشت شده اند. خالد مؤحد سخنگوی این مرکز گفته است که مدیریت تدقیق، بررسی و لابراتور مرکز عدلی وقضایی تمام قضیه های یاد شده را در طی ۷۲ ساعت رسیدگی لازم نموده و به منظور تحقیقات بیشتر تمامی دوسیه ها ومظنونین را به ریاست څارنوالی اختصاصی مرکزعدلی وقضایی مبارزه علیه مسکرات مواد مخدر ارسال داشته است.

موصوف افزوده است، از جملهٔ بازداشت شده گان ۱۲ تن به شمول ۲ تن خانم که میخواستند مواد مخدر از نوع هیروئین را با استفاده ازشیوه های جاسازی دربطن و بکس های سفری از میدان هوایی بین المللی حامد کرزی به کشورهای دبی وهندوستان انتقال دهند که از سوی موظفین پولیس و څارنوال موظف مرکز عدلی و قضائی مبارزه علیه مسکرات و مواد مخدر شناسایی و بازداشت شدند.

سخنگوي مرکز مذکور درادامه گفت، درهمین حال درجریان ربع دوم ۱۳۹۹از جانب محکمه ابتداییه مبارزه علیه مسکرات و مواد مخدر۳۰۵ تن به شمول ۲۱ تن موظفین خدمات عامه و۲ تن خانم درپیوند به ۲۲۳ قضیه ازشصت هزارافغانی جریمه نقدی الی ۳۰ سال حبس محکوم به مجازات شده اند و همچنان از جانب محکمه استیناف مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر ۲۱۱ تن به شمول ۱۸ تن موظفین خدمات عامه و۳ خانم درپیوند به ۱۴۴ قضیه به حبس های تنفیذی مختلف محکوم به مجازات شده اند.

## راپوروونه: د اذربایجان او ارمنستان د سرتېرو ترمنځ په ناګورنو قره باغ کې یوځل بیا جګړو زور اخیستی



د راپورونو له مخې، د اذربایجان او ارمنستان د سرتېرو ترمنځ په ګډه پوله کې سختې نښتې شوې دي. اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ویلي چې دغه تازه نښتې په «ناګورنو قره باغ» سیمه کې شوې دي. په ورته وخت کې د ارمنستان دفاع وزارت ویلي چې د اذربایجان دوې هلیکوپټرې یې تر ویشتل کېدو وروسته راغورځولي دي. د دغه هېواد د دفاع وزارت دا هم ویلي چې ارمنستاني سرتېرو د اذربایجان دوه ټانکونه هم ویشتلي دي. د ارمنستان چارواکو په دغه نښته کې د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ورکړي.

خو د اذربایجان دفاع وزارت بیا د ارمنستان د چارواکو دا ادعا رد کړې چې ګواکې د دغه هېواد دوې هلیکوپټرې او ټانکونه یې ویشتلي دي. د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د راپور په اساس، د اذربایجان ولسمشر الهام علي ییف ملت ته په وینا کې ویلي: «د ارمنستان په هوایي بریدونو کې د سرتېرو ترمنځ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.» ارمنستان ویلي چې لومړی برید د اذربایجاني سرتېرو له خوا شوی، خو اذربایجان بیا ویلي چې لومړی برید ارمنستاني لوري کړی دی. د یادونې ده چې ارمنستان او اذربایجان په نوییمې لسیزه کې د ناګورنو قره باغ د غرنۍ سیمې پر سر جګړه کړې وه.

د ناګورنو قره باغ سیمه چې دننه په اذربایجان کې پرته ده او د ارمنیانو له خوا اداره کیږي، په ۱۹۹۱ ز کال کې د پخواني شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته یې خپله ازادي اعلان کړې ده، خو اذربایجان یې هغه خپله خاوره ګڼي.

## راپوروونه: په پاکستان کې د یوه مسافر وړونکي موټر د چپه کېدو په پېښه کې ۱۵ کسان مړه شوي

د راپورونو له مخې، په پاکستان کې د یوه مسافر وړونکي موټر د چپه کېدو او اور اخیستو په پېښه کې د ماشومانو په ګډون ۱۵ تنه مړه شوي دي.


پاکستاني چارواکو ویلي چې دغه پېښه کراچۍ ښار ته نږدې شوې او په موټر کې د پولیسو په وینا، ټول ۲۵ تنه سپاره وو. چارواکو دغه راز ویلي، لس تنه نور هم په دې پېښه کې ټپیان شوي چې روغتون ته یې لېږدولي دي. بلخوا په کراچۍ کې روغتیایي چارواکو ویلي چې د ځینو ټپیانو روغتیایي حالت د اندېښنې وړ دی.

دا په داسې حال کې ده چې په پاکستان او په ځانګړې توګه د یاد هېواد په غرنیو سیمو کې ترافیکي پېښې عادي دي چې لامل یې تر ډېره د موټر چلوونکو بې احتیاطي او د سړکونو خرابوالی ښودل شوی دی. د راپورونو پر اساس، تېر کال په دغه هېواد کې ۹ زره ترافیکي پېښې شوې چې څلور زرو کسانو پکې ژوند له لاسه ورکړی دی.

په ورته وخت کې د پاکستان د حکومت په حواله، هر کال په دغه هېواد کې شاوخوا ۹ زره ترافیکي پېښې کېږي چې له کبله یې لږ تر لږه څلور زره کسان پکې مړه کېږي.


## ژوند

## سپما؛ د پیرلو لپاره وخت وټاکئ




د دې لپاره چې کمې پیسې ولګوی، په هماغه ګړۍ پرېکړه مه کوئ. په کور کې په ډېرې ارامۍ او پوره دقت سره د هغه څه لېست برابر کړئ، چې غواړې ویې پېرې. له پیرلو مخکې له څو بېلابېلو مغازو لیدنه وکړئ او نرخونه سره پرتله کړئ. په کور کې یې په ارامۍ سره په اړه فکر وکړئ او د منځنۍ بیې لرونکي توکي وټاکئ. که تاسو په دې پوه وی چې څه شه اخلی او له مخکې مو یې په اړه فکر کړی وي، په مغازه کې به مو وخت لږ تېر شوی وي او پیسې به مو هم کمې لګولې وي. که پیرلو ته د یوې مهمې پرېکړې په توګه وګورئ، هغه ده چې عاقلانه پرېکړه هم کوی. که جامې اخلی، نو په مغازو کې یې مه په تن کوئ. ښایي ځینو توکو ته اړتیا ونه لرئ، خو چې پر تن یې کړئ، خوښېږي مو او وروسته یې په پیرلو ډېرې پیسې ورکوئ. داسې مو سپمولې پیسې هم له لاسه وځي.

## اپل کمپنۍ نوی ایپډ ایر او ایپډ معرفي کړل



اپل کمپنۍ د یوې غونډې له لارې خپل د ایپډ دوې نوې بڼې، ایپډ ایر او ایپډ (اتم جنریشن) معرفي کړې او ډیزاین، ځانګړنې او بیې یې له کاروونکو سره شریکې کړې دي. ایپډ ایر د ډیزاین په برخه کې ایپډ پرو ته ورته دی او تر دې دمه د اپل کمپنۍ تر ټولو پیاوړی ایپډ دی او ایپډ اتم جنریشن بیا د تېر کال د معرفي شوي ایپډ نوې بڼه ده.

د اپل ایپډ (اتم جنریشن) ځانګړنې او بیه: دغه ایپډ کې د اپل کمپنۍ اې۱۲ بیونېک چپ ورکړل شوی او بیه یې له ۳۲۹ امریکایي ډالرو څخه پیلېږي. اپل ادعا کوي چې دغه ایپډ کې کارول شوی اې۱۲ بیونېک چپ له پخوانۍ بڼې څخه ۴۰٪ چټک او دوه چنده د ګرافیک وړتیاوې لري. اپل کمپنۍ ادعا کوي چې د دغه چپ په مرسته به دغه ایپډ د وینډوز لپټاپونو څخه درې چند چټک وي. ایپډ (اتم جنریشن) کې ۱۰,۲ انچه رېټینا مخپاڼه ورکړل شوې چې د اپل پنسل او د اپل ځیرک کیبورډ څخه هم ملاتړ کوي.

د (ATM) یا صرافۍ خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخیستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیستم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پېرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلي وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.
همدارنګه د عزیزي بانک محترم پېرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په کتني له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.
عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پېرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af 1515




عزیزي بانک
Azizi Bank